# د مور

# وژونکی (قاتل)



**لیکوال:** داکټر معمار حشمت الله اتمر

[illegible]

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د مور وژونکی (قاتل)

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ایډیټور:**

**د پخښتی دیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - کب / کال ۱۴۰۴

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

برېښنالیک: atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د کټې اخیستنې اجازه نه شته.

ketabton.com - The Digital Library



## لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتنی........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................................ ۲
انا لله و انا الیه راجعون ............................................................ ۳
لیکي پوهه:..................................................................... ٤
لړلیک ......................................................................... ٥
تراڼ (پیل، شروع، برید)................................................................ ٦
د یادښتونو له پاره:............................................................... ۸
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ...................................................... ۹
د چاپ شویو کتابونو لېست.......................................................... ٥٤
د کار لاندې کتابونو لېست .......................................................... ٥۸
د امکان او وخت په صورت کې......................................................... ٥۹
د پخښتنی څټ ................................................................... ٦۰

ketabton.com - The Digital Library

د مور وژونکی (قاتل)

..................................

ترانې (پيل، شروع، بريد)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پايه ستاينه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاينات يې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقيقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات يوهه، عالي، لوړ او بشکلي نومونه دي، او کائناتو د پيدايښت يوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجوديت، د ناخاپه ښخه راوتل، حق د رسيدو جوهر په يوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ يوه له لوړو وسيلو ښخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل يوه بل حقيقي داستان يا ناول چې کيسه يې په هېواد کې د ننه، د لغمان ولايت په الينګار ولسوالۍ کې تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مينوالو او لوستونکو سره ګډه (شريکه) کړم.

زما د کتابونو مينه وال يوازې معماران او انجينران نه دي، نه بايد اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو ليکونو کې توپير راوړم چې د هرې ځانګې مينه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې ليکنې مې توپير و لري او هم به مې مينه وال ډېر شي.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.....................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر تېولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

ketabton.com - The Digital Library

د مور وژونکی (قاتل)

....................................

د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ..........................................................................

۷- ..........................................................................

۸- ..........................................................................

۹- ..........................................................................

۱۰- ..........................................................................

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.......................................

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

تنها دېرش کاله پخوا د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالۍ په یوې متوسطه او دینداره کورنۍ کې سترګې دې نړۍ ته خلاصې کړې.

پلار یې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې کړې وې او د پخواني حکومت، لوی افسر و.

مور یې، بې زده کړې وه.

هغه څلور خویندې او دوې ورونه درلودل او دا د کور نازولی زوی او په خپل پلار، ډېر ګران هم و.

په کوشنیوالي کې یې ډېر نامنونی (شوخ) و، تل به، یواځې ګرځېده، نو ځکه په خپلې کورنۍ او د باندې خلکو به ورته، تنها ویل.

د هغه اصلی نوم په کوشنیوالي کې، فیروز و.

مګر د وخت په تېرېدو سره، تنها باندې واوښت.

هم په کور او هم د باندې به خلکو، ورته تنها ویل.

تنها به، ورځ تر بلې لوېده.

پلار به یې هغه، جومات ته لېږه تر څو دیني زده کړې وکړي.

هغه خپل سبق د الف، بې، تې نه، پیل کړ.

بیا وروسته یې د قرآنکریم زده کړې، پیل کړې.

پلار یې نه شو کولای، قرآنکریم په سمه توګه ولولي.

## د مور وژونکی (قاتل)

.................................

نو ځکه یې پر ځامنو او لورګانو کوښښ کوه، تر څو پر هغوی، دیني زده کړې وکړي.

د هغوی کور جومات ته هم، نږدې و.

د هغه پلار به د جومات له امام نه پوښتنې کوې، چې زامن او کوشني لورګانې یې په سبقونو کې څنګه دي؟

خپله به یې هم لمونځ په جمع کوه او زامنو ته به یې هم نصیحت کوه تر څو لمونځ په جمع ادا کړي.

کوم وخت چې به د هغه زامن لمانځه ته، نه راتلل، ملا صیب به د هغه پلار ته شکایت هم کوه.

پلار به یې پر خپلو زامنو، غصه کېده.

بیا به یې، هغوی ته ویل:

تاسو باید لمونځ په جمع وکړئ.

که نه، بیا ملا صیب ما ته وايي.

زه به ستاسو سره، کار ولرم.

کله به یې زامنو، خپل پلار ته، ویل:

مونږ سهار، ښوونځي ته، ځو.

پلار به یې ویل:

تاسو خو د ورځي ښوونځي ته ځئ، لمونځ خو د ښوونځي په وخت کې، نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

هسې پلمې (بهانې) مه کوئ.

تنها خورا لوی او د ښوونځي شو.

لمړنی ښوونځی، د هغوی کور ته، څه ناڅه نږدې و.

پلار يې هغه په ښوونځي کې ګډ (شامل) کړ.

هغه د ښوونځي سره مينه درلوده او په سبقونو کې به يې ډېر زيار او کوښښ کوه.

هغه لمړی ټولګی په برياليتوب سره، تر سره کړ او دوېيم ټولګي ته، لاړ.

د کوشنيوالی نه، هغه د پلاستيکي سلاح لکه:

توپانچې، ټوپک سره مينه درلوده.

په اخترونو کې به يې اختريزې (عيدانې) ټولوې او پر پيسو به يې توپانچې او ټوپک اخيستل او د کلي نورو ماشومانو سره به يې لوبې کوې.

اوسنې، د لوبو توپانچې او ټوپک هم د پخوا په پير(وخت) نه دي او کېدای شي ماشومان يوه او بل پرې و ولي او ژوبل يې هم کړي.

په يوه کوشني اختر کې، هغه سهار وختی له خوبه پاڅېد.

د اختر لمونځ نه وروسته، خپلې مور نه يې څه پيسې واخيستې او د کلي هټۍ ته، لاړ.

تنها پر پيسو يوه ټوپک وپيره (واخيست، و نيو).

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

........................................

د ټوپک سره پلاستیکي ساچمې هم وې.

وروسته بېرته کور ته روان شو.

په لاره کې د کلي الکانو ورته پام شو او د هغه نه یې پوښتنه وکړه:

دا ښکلی ټوپک دې چېرته واخیست؟

تنها ځواب ورکړ:

د کلي په هټۍ کې.

الکانو بیا وپوښتل:

په څو افغانۍ دې واخیست؟

تنها و ویل:

په سل افغانۍ مې واخیست.

په دې وخت کې یوه الک تنها ته، و ویل:

کېدای شي، ویې ګورم؟

تنها ټوپک هغه ته ورکړ.

بې له دې نه چې له تنها نه پوښتنه وکړي، یوه الک خوا یې خوله ونیوه او پر ماشې یې ګوته، کش کړه.

په دې وخت کې ساچمه د ټوپک نه و وته او د الک پر مخ کلکه، ولګېده.

د الک مخ سور او په ژړا شو.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

بیا په منډو کور ته لاړ.

کیسه یې په لنډه توګه خپلې مور ته وکړه.

د الک مور په غصه، کوټې ته را و وته.

بیا پر الکانو یې، غږ کړ:

ټوپکي، څوک دی؟

تنها و ویل:

ټوپک زما دی.

خو ما پرې ډز، نه ده کړی.

په دې وخت کې کوم ماشوم چې ټوپک یې کټلو د پاره د تنها نه اخیستی و، له ډاره و تښتېد.

بیا الکانو د هغه پسې منډې کړې.

تنها پر خپل ځای ولاړ او ټوپک یې په لاس کې وه.

الک مور پوی شوه چې د تنها ګناه (خطا) نه ده.

بیا یې هغه ته و ویل:

ګوره!

زما د زوی مخ تک سور دی، که دا ساچمه یې پر سترګې لګېدلې وای، سترګه یې لړندېده.

تنها پر خپلې ګناه پوی او د الک مور ته یې، و ویل:

## د مور وژونکی (قاتل)

...................................

ښه شو، په خير تېر شو.

زه هم پوی نه وم چې په ټوپک کې ساچمه شته.

بيا به داسې کار نه کوم.

د الک مور و ويل:

زه!

اوس لاړ شه!

بيا داسې کار، مه کوه.

تنها هم، کور ته لاړ.

د اختر ورځې يې په خپګيان سره، تېرې کړې.

څه وخت تېر شو.

هغه لمړنی ښوونځی په ښو شمېرو (نمرو) سره پای (سرته) ته ورساوه او په لېسې کې ګډ (شامل) شو.

په ليسې کې هم ډېر تکړه او خواريکښ و.

لېسه يې هم په ښو شمېرو تر سره ياني (يعنې) پای ته، ورسوه.

په سيمې کې کار او بار نه و.

هسې به وزګار (اوزګار) ګرځېده.

خلکو به هم، هغه پسې بې ځايه تبصرې، کوې.

د هغه مينه د کوچنيوالی نه، د ټوپک سره وه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

څه موده وروسته هغه اړ شو تر څو، خپل پلار اومور نه اجازه واخلي او د څه وخت له پاره قراردادي عسکر شي.

هم به څه پیسې وګټي او هم به بوخت (مصروفه) شي.

د دې له پاره چې هغه وزګار او اخوا دېخوا ګرځېده، نو ځکه پلار او مور یې د هغه سره یوشو (موافق) شو او هغه ته یې د خیر دعا ورکړه.

بیا یې د هغه نه وغوښتل ترڅو د خپل هېواد خدمت، مګر ورور وژنه، و نه کړي.

تنها لمړی کابل ښار ته راغی او په یوه تعلیمي مرکز کې یې خپل نوم ولیکه (ثبت) کړ.

بیا یې سپینې فورمې تر لاسه کړې.

هغه یې ډکې کړې.

وروسته د تصدیکونو (تصدیقونو) له پاره، خپلې ولسوالۍ ته وپوړې (یوړې).

البته یې تصدیکونه (تصدیقونه) خلاص او ضمانت کونکی یې هم و موند.

بیا څو ورځې وروسته یې فورمې ببرته، تعلمي مرکز ته وپوړې.

مسول کس د هغه نه فورمې واخیستې او نورې اړونده، دندې یې البته د هغه سره ګډې، تر سره کړل.

بیا یې هغه څېره او د ټولي مشر ته ور وپېژاند.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.................................

د هغه اعاشه او اباطه (درې وخته ډوډۍ او نور اړین شیان)، هم پیل شوه.

هغه الته، د درې میاشتو له پاره نظامي سبقونه او تعلیم وکړ.

بیا هغه، د تعلیمي مرکز نه، فارغ شو.

د عسکرو فراغت غونډې نه وروسته، عسکرو ویش پیل شو او هغه یې د زابل ولایت ته، د دندې ادا کولو له پاره، ور وپیژاند (معرفي) کړ.

هغه هم د نورو عسکرو سره یوه ځای، زابل ولایت لاړ او پر دندې یې پیل کړ.

تنها ډېر پوی او زړور ځوان و.

الته د عسکرو په منځ کې خورا مشهوره شو.

د قطعی مشر پام یې ځان ته راواړاوه.

هغه به هره دنده، په ښه توګه او بریالیتوب سره، تر سره کوه.

هغه د قطعې پر مشر ډېر ګران شو.

کله نا کله به یې هغه خپلې کوټې (دفتر) ته غوښت او له هغه سره به یې مشورې کوې.

څه موده تېره شوه.

د قطعې مشر هغه ته یې د افسرېدو (صاحب منصب کېدو) وړاندیز (پیشنهاد) وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

بیا هغه و ویل:

زه به په دې هکله د کورنۍ سره، خبرې وکړم.

زما پلار هم افسر دی.

بیا د قطعې مشر و ویل:

زه یقین لرم چې هغه یې، منې.

له یوې خوا ستا مینه د نظامې دندې سره ده او له بلې خوا ته ډېر هوښیار او زړه ور، یې.

هغه و ویل:

ته خو، رېښتیا وایې.

خو!

ښه به دا وي چې؛ د کورنۍ سره یې ګډ (شریکه) کړم.

د قطعې مشر ومنه او هغه ته یې و ویل:

سمه ده!

کومه ستونزه نه شته.

ته، کورته ټېلفون وکړه.

تګ خو هسې، اسانه کار نه دی.

هغه ومنه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

بیا یې غوږکی (ټیلفون، موبایل) له جبه راو ویست او کور ته یې زنګ و واهه، لمړی یې خپلې مور سره، خبرې وکړې.

د مور زړه یې نه وه او تنها ته یې و ویل:

د عسکری قرارداد دې چې خلاص شو، بیا قرارداد، مه کوه.

تنها و ویل:

بیا به، څه وکړم؟

اوس د عسکرۍ سره بلد شوی یم.

بیا مور یې و ویل:

ستا خوښه!

ته، تر مونږ ښه پوهیږې.

هسې زه، بې زده کړې یم.

بیا هغه د قطعې مشر کوټې (دفتر) ته لاړ، لمړی یې عسکري تعظیم وکړ.

د قطعې مشر و ویل:

څنګه شو؟

تنها و ویل:

کورنۍ مې، نه غواړي چې زه افسر شم.

بیا د قطعې مشر و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

ستا خوښه، څنګه ده؟

تنها و ویل:

زه خو په دې نظامې دندې کې، بلد شوی یم.

زه غواړم افسر شم.

د قطعې مشر، په خندا شو او ویې ویل:

ما هم دا سوچ کوه.

ته به، راضي شې.

ځکه ستا مینه د کوشنیوالي نه هم، د ټوپک سره وه.

په دې وخت کې، تنها وخندل.

او ویې ویل:

په رېښتیا هم له کوچنیوالی نه، زما مینه د ټوپک او توپانچې سره وه.

بیا د قطعې مشر و ویل:

داسې ښکاري چې ته اوس، راضي یې؟

تنها و ویل:

هو!

د قطعې مشر، د هغه اسناد جوړ او مرکز ته یې ولیږل.

دوې میاشتې تېرې شوې.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

د هغه منظوري د افسر په توګه راغله.

بیا د قطعې مشر، هغه یې راوغوښت.

تنها هم د هغه دفتر ته نږدې شو.

دروازه یې وټکوه.

بیا دفتر ته، د ننه شو.

لمړی یې، نظامي تعظیم وکړ.

بیا د قطعې مشر، هغه ته د ناستې بلنه ورکړه.

هغه هم د قطعې مشر ته مخامخ پر څوکی، کښېناست.

د قطعې مشر هغه ته، مبارکي ورکړه.

بیا یې هغه ته مکتوب وښود.

تنها، ډېر خوشحاله شو.

قطعې د مشر نه یې، مننه وکړه.

بیا د قطعې مشر خپل دفتر آمر و غوښت او هغه ته یې دنده وسپاره تر څو، هغه ته نوی دفتر جوړ او د غرمې ډوډی او ماسپښین د لمانځه نه وروسته تولو ته ور وپېژني.

زه به هم په غونډې کې لنډه وینا، د هغه د دندو، ښه اخلاقو او ښې دندې تر سره رسونې، یادونه وکړم.

هغه و ویل:

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

سمه ده!

غرمه او د غرمې ډوډۍ وخت شو.

ټولو ډوډۍ پر سر ناست او د دفتر امر طعام (ډوډۍ) خونې ته د ننه شو.

لمړی یې، ټولو ته سلام بیا یې و ویل:

د ماسپښین د لمانځه نه وروسته مونږ د څو دکیکو (دقیقو) له پاره غونډه لرو.

غونډه به ډېره، لنډه وي.

بیا د یوه بلوک، مشر پاڅېد او ویې ویل:

غونډه د څه په هکله ده؟

هغه و ویل:

تاسو سوچ او تشویش مه کوئ.

تاسو خو تنها پېژنئ؟

ټولو و ویل:

هو!

صیب!

مونږ یې په ټوله مانا (معنی) پېژنو.

هغه تکړه، او زړور عسکر دی.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

................................

بیا د دفتر امر و ویل:

هغه ځو موده مخکې د افسر په توګه وړاندیز(پیشنهاد) شوی و، اوس د هغه منظوري د افسر په توګه راغلې ده.

ننې غونډه هم، د هغه د افسرۍ په هکله ده.

عسکرو و ویل:

سمه ده!

صیب!

مونږ په غونډې کې، هرو مرو ګډون کوو.

لمونځ په جمع ادا او کسانو د غونډې تالار ته، لاړل.

غونډه د قرآنکریم په ځو آیتونو لوستلو، پیل شوه.

بیا د قطعې مشر لنډه وینا وکړه .

د دفتر امر هم د هغه لنډه پېژندنه (بیوګرافي) ولوسته.

بیا د قطعې معاون تر لنډې وینا وروسته لمړی یې هغه ته مبارکې و ویله او هغه یې د بلوک مشر په توګه ور وپېژاند.

بیا یې د عسکرو وغوښتل تر ځو د هغه سره، هر اړخیزه، مرسته وکړي.

غونډه د دعایې په لوستلوسره، پای ته، ورسېده.

تنها هم، لمړی د بلوک مشر بیا یې د کنډک مشر په توګه پر دندې وګمارل شو.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

هغه به تل په دندو کې بریالی او هره دنده به یې، په چټکۍ سره، تر سره کوه.

هغه غښتلی ځوان او د سپورت سره یې هم، مینه درلوده.

هغه به سهار وختي له خوبه پاڅېده، لمړی به یې اودس بیا وروسته به جومات ته، د لمانځه د ادا کولو د پاره، ته.

بیا به یې منډې وهې او د سپورت میدانونو ته به، ته.

وروسته به د چای څښلو ته، ته.

هغه به خپلې پیسې (تنخواوې) ټولوې او خپلې مور ته به یې ورکوې.

د هغې مور څه پیسې، ټولې کړې.

یوه ورځ چې هغه په رخصتۍ کور ته تللی و، مور یې ورته و ویل:

مونږ تا ته، یوه جلۍ لیدلې ده.

هغه خورا ښکلې او ځوانه ده.

ستا پام (نظر) په دې خبرې کې، څه دی؟

هغه و ویل:

اوس خو وخت ډېر دی.

مور یې و ویل:

په ژوند اعتبار نه شته!

ښه  به دا وې چې تا ته ګوزده، بیا واده وکړو.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

...............................

تنها سر تېیټ واچوه او څه یې و نه ویل.

څو ورځې یې الته په سیمې کې تېرې کړې.

بیا رخصتي یې پوره شوه.

د شپې یې چندان خوب و نه کړ.

سهار وختي له خوبه پاڅېد.

اودس یې وکړ او د لمانځه د پاره جومات ته لاړ.

د لمانځه نه وروسته، بېرته کورته ستون شو.

مور یې چای، جوش (دم) کړی و.

لمړی یې دسترخوان اوار، بیا هغه ته یې د سهار چای پر دسترخوان کېښود.

هغه چای وڅښه.

بیا یې د خپل ورور، خویندو، پلار او مور سره خدای پامانی وکړه.

د کوره د باندې او ولسوالی بازار ته، روان شو.

الته د ولایت موټرو اډې ته یې ځان و رساوه.

لمړی هغه د لغمان ولایت (مهترلام بنار) ته، لاړ.

الته د کابل موټرو اډې ته لاړ.

هغه په موټر کې، کښېناست.

څه موده یې صبر وکړ، تر څو موټر ډک شي.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

موټر ډک او بیا د کابل پر لور یې، حرکت وکړ.

دوې ګړۍ وروسته، هغه د نورو کسانو سره، کابل ښار ته ورسېد.

شپه یې کابل ښار، په یوه هوټل کې، وکړه.

بیا یې سوچ وکړ.

ځمکنی تګ خو، اسانه نه دی.

په لاره کې طالبان شته.

که د هغو په لاس لاړشم، بې مرګه مې، نه پرېږدي.

ښه به داوي، د ملګرو سره مشوره وکړم.

هغه خپل غوږکی (ټېلفون، موبایل) پورته او خپل ملګرو ته یې زنګ، و واه.

هغه د لارې ستونځې، د خپلو ملګرو سره ګډې (شریکه) کړې.

بیا یې د سیمې د یوه کس نه پوښتنه وکړه.

کولای شو، په موټر کې زابل ولایت ته لاړ شو؟

هغه و ویل:

ولا، سخته ده.

څه نه شم ویلای.

کله، هېڅ خبره نه وي او کله د تېرېدو امکان هم نه وي.

نور، ستا خپله خوښه!

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

تنها و ويل:

مننه کوم.

که داسې وي، غوره لاره، اوايي (هوايي) لاره، ده.

بيا نورو ملګرو يې، و ويل:

لاره د ستونزو، ډکه ده.

په څو ځايونو کې طالبان سړک ته راوځي او تلاشي کوي.

عسکر او افسر يې چې په ګوتو ورشي، بندي او يا وژني.

بيا تنها و ويل:

ښه به دا وي چې په الوتکه کې لاړ شو.

ملګرو يې و ويل:

دا خبره، غوره ده.

ټولو، و منه.

بيا سهار د الوتکې ټکټ په هکله آريانا هواي چلند نماينده ګۍ ته لاړل.

ملګري يې هم، الته راغلي وو.

ټولو الته، ټکټ وکړ(واخيست).

بيا هر څوک د وخت او شپو د تېرېدو له پاره، خپلو، خپلوانو او يا هم هوټلونو ته، لاړل.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.................................

الوتنه يې دوې ورځې وروسته وه.

تنها، دوې شپې په هوټل کې، وکړې.

بيا سهار وختی اوايي (هوايي) ډګر ته لاړ.

لمړی د ډګر ودانۍ (ترمينل) ته ننوت او الته يې څه موده انتظار وکړ،

نور ملګري يې هم ورسېدل.

وروسته الوتکه د کوم بل ولايت نه راغله او پر ځمکې کښېناسته.
بيا، د کندهار ولايت مسافرينو ته يې، د چمتو والي غږ وکړ.

مسافرو هم ځانونه، تيار(اماده) کړل.

څو دکيکې (دقيقې) وروسته غږ شو چې د کندهار ولايت مسافرو نه په درنښت هيله کيږي چې، ځانونه الوتکې ته ورسوي او کوښښ دې وکړئ تر څو، څه يې په سالون کې، پاتې نه شي.

مسافرو هم خپلې کځوړې او غوټې له ځانه سره الوتکې ته، پورته او الته يې د ستيورديسو په لار ښوونه، په مناسبو ځايونو کې، کېښودې.

کسان، پر خپلو ځايونو، کښېناستل.

څو دکيکې وروسته الوتکه اوا (هوا) ته واولوته( پورته، اوچته شوه).

بيا پاو کم يوه ګړی وروسته کندهار ولايت ته ورسېده او الته په اوايي (هوايي) ډګر کې ښکته شوه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

....................................

مسافر د الوتکي څخه راکوز او د اوايي (هوايی) ډګر ودانۍ (ترمينل) ته د ننه شوو.

ځينو خپل لوی بکسونه د ترمينل نه واخيستل او ځينو نورو چې لوی بکسونه يې نه درلودل او يواځې کوشنۍ کځوړې او غوټې يې درلودې، له ځانه سره يې له الوتکې نه کوځې کړې او ودانۍ (ترمينل) ته ننوتل.

بيا د هغه ځای نه کسان و وتل او په خپلو موخو پسې لاړل.

تنها هم د خپلو ملګرو سره د ودانۍ نه د باندې او لوی سړک خوا کې، ودرېدل.

بيا يې يوه موټر ترخپلې قطعې پورې کرايه (دربست) و نيو او لاړل.

په لاره کې پر هغوی د نا پېژندو(نا معلومو) کسانو له خوا ډزې هم وشوې.

مګر تنها چلونکي ته و ويل:

لار وهه!

موټر مه دروه.

د موټر تاوان دې زه درکوم.

چلونکي هم دوې پېنې خپلې او دوې يې قرض او له ځايه يې ځان و باسه او د تنها او د هغه انديوالانو ژوند يې وژغوره.

هغوی خپلې قطعې ته ورسېدل.

په نظام قراول کې يې موټر ودراوه.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

بیا تنها له موټره نه کوز او د نظام قراول مشر ته یې و ویل:

لویه دروازه (ګېټ) خلاص کړه، زمونږ سره کځوړې او غوټې هم شته.

مونږ ډېر ستومانه او پر مونږ، ډزې هم شوې دي.

په پښو کې مو دمه (شیمه) نه شته.

د نظام قراول مشر و ویل:

بېګانه خو به په موټر کې نه وي؟

تنها و ویل:

**نه!**

ټول خپل کسان او زه یې ضمانت کوم.

بیا د نظام قراول مشر، موټر تلاشی او وروسته یې، ورته اجازه ورکړه چې قطعې ته ننوځي.

موټر قطعې ته ننوت.

لږ څنډ وروسته د کنډک ودانۍ تر څنګ ودرېد.

تنها او نور کسان له موټر نه کوز او خپلې کځوړې او غوټې یې ترې ښکته کړې.

بیا یې چلونکی ته، منل شوې پیسې ورکړې او تنها د هغه سره تر نظام قراول پورې ببرته ملتیا وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.....................................

کله چې موټر نظام قراول ته ورسېد، د نظام قراول مشر بیا هغه موټر تلاشي او ورسته د اطمینان څخه، هغه ته یې د وتو اجازه ورکړه.

موټر په خپلې مخې پسې لاړ.

تنها هم خپل کنډک ته، بیاده ستون شو.

کال تېرشو؛

بیا وروسته تنها خپله کلنۍ رخصتي واخیسته او خپلې سیمې (لغمان) ته، لاړ.

البته مور یې ورته د کوژدې تیارى نیولې و.

هغه شپه په کور کې، وکړه.

سبا مور او پلار یې د هغه د خسر او خواښې سره ولیدل او د تنها د راتګ زېرى یې پر هغو، وکړ.

بیا د بل سبا له پاره یې، د هغه د ګوژدې وخت وټاکه.

د تنها خسرګنۍ هم راځي (موافقه وکړه) شو.

هغوى بېرته، کور ته ستانه شو.

د کلي ځوانان یې را وغوښتل او هر کس ته یې، دندې ورکړې.

د کوژدې ټول خوراکي شیان تر ماښامه واخیستل شو او کور ته ورسېدل.

بیا یې د کوژدې رقې (رقعې) ولیکې.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

..................................

سها و ختې يې پر وېش پيل کړ.

لرې مېلمنو ته يې په غوږکي(ټېلفون، موبايل) کې پيغامونه او زنګونه و وهل.

ورځ تېره شوه.

هغوی څو تنه (کسه) تکړه آشپزان هم پيدا او د هغوی سره يې د پخلي په اړه خبرې وکړې.

هغوی تنها د پلار سره په اوجورې هم جوړ راغلل او له هغوی نه يې غوښتنه وکړه چې سبا وختي د تنها کور ته راشئ.

هغوی ومنه.

بيا يې تنها د پلار نه وپوښتل:

دېګي، کاسې او نور شيان حاضر دي؟

د تنها پلار و ويل:

نه!

تاسو مونږ ته لېست راکړئ، زه به يې کراکرايي ته، فرمايښت ورکړم.

بيا اشپزانو تنها د پلار نه وپوښتل:

څو کسان مو را بللي دي.

هغه و ويل:

د پنځه سو کسانو په شاو خوا کې.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.....................................

بیا یوه آشپز و ویل:

کاغذ لرې؟

د تنها پلار هغه ته، کاغذ ورکړ.

بیا آشپز و ویل:

کلم (قلم) دې هم، راکړه.

د تنها پلار، هغه ته کلم (قلم) هم ورکړ.

هغه هم لېسټ جوړ او بیا یې د تنها پلار ته ورکړ او هغه ته یې و ویل:

همدا اوس، کراکرایي ته لاړ او خپل لېسټ، ورکړه.

سبا د سهار لمانځه نه وروسته، الته لاړ او ټول وسایل کور ته یوسه.

مونږ به هم د چای نه مخکې ځانونه ورسو او پر پخلي به پیل کړو.

هغه و ویل:

سمه ده!

آشپزان په خپلې مخې او د تنها پلار هم، کور ته لاړ.

د تنها پلار ښځو ته دنده وسپاره تر څو وریژې (وریجې) پاکې او بیا وروسته یې په لویو لوښو(تشتونو) کې خیشتې (لمدې) کړي.

دا کار تر سره شو او شپه ورسېده.

ټول د وخته بیده او سهار وختي له خوبه پاڅېدل.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

لمرۍ یې اودسونه او بیا یې لمنځونه، ادا کړل.

ښځو اوبه، په لویو چایجوشونو کې واچوې او هغه یې پر نغریو، کېښودل.

په دې وخت کې د تنها پلار کراکرایي هټۍ ته، لاړ.

کس د ورایه (دمخکې نه) د هغه د لېسټ سره لوښي او دېګي د هټۍ مخې ته، ایخښې ول.

یوه زرنج موټر سایکل چې د هټۍ پورې اړوند و، هم درېدلی و.

د تنها پلار هټۍ ته نږدې او کس ته یې سلام و رکړ.

کس هم د تنها پلار سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې د تنها پلار ته و ویل:

ته کوم موټر د لوښو او دېګیو د پاره لرې؟

هغه و ویل:

**نه!**

بیا کس و ویل:

د زرنج خاوند سره د وړلو او راوړلو خبره وکړه**!**

بیا به ټول په شریکه سره لوښي او دېګي، بار کړو.

د تنها پلار د زرنج پر خاوند غږ کړ.

د زرنج خاوند نږدې شو او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

امر کوه صیب!

د تنها پلار و ویل:

دغه لوښي او دېګي زمونږ تر کوره به، په څو وېسئ او راوړئ؟

هغه د تنها پلار نه د پتې پوښتنه وکړه.

د تنها پلار، هغه ته پته ورکړه.

د زرنج خاوند و ویل:

هو!

پته مې لیدلې ده.

بیا یې په بیو جوړ نه راتلل.

وروسته کس د دواړو تر منځ، جوړه وکړه.

دواړو د کس خبره ومنه او د لوښو او دېګیو پر بارولو یې، پیل کړ.

تول د اړتیا شیان یې په زرنج کې بار او د تنها پلار هم د زرنج خاوند تر خوا کښېناست.

نیمه ګړۍ وروسته، هغوی د تنها کور ته ورسېدل.

زرنج یې د پخلي ځای ته د ننه او لوښي یې ترې کوز (ښکته) کړل.

بیا یې زرنج یوې خوا ودراوه.

په دې وخت کې چای جوش (دم) شوی و.

تغر اوار او تول سره راټول شوو.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

................................

د سهار چای په ښبنلو یې، پیل کړ.

چای نه وروسته، بیا دندې و وېشل شوې.

هر چا به خپلې دندې، په چټکۍ سره پر مخ وړې.

بلل شويو کسان هم ډله، ډله پر رسېدو، پیل کړ.

د چاه سره به ښځې او ماشومان هم وو.

څوک به په موټر او څوک به په پښو را روان وو.

غرمه نږدې او د ډوډۍ وېش پیل شو.

آشپزانو خوندوره ډوډۍ تیاره کړې وه.

لمړی یې نارینوو بیا یې ښځو ته ډوډی و وېشه.

د ډوډۍ وېش خلاص او خلکو جوګه، جوګه (ډله، ډله) په وتلو، پیل کړ.

د ماسپښین د لمانځه نه وروسته اشپزانو لوښي او دېګي پرېمنځل.

د کراکرایي لوښي او دېګي یې یوې خوا او د کور او کلیوالو لوښي او دېګي یې بلې خوا، کېښودل.

بیا د تنها پلار ور نږدې شو.

د کرا کرایي لوښي او دېګي یې د لېست سره پرتله کړل.

ټول شیان، پوره وو.

بیا یې د ځوانانو نه مرسته واخیسته.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.....................................

د کراکرايي لوښي او دېګي يې په زرنج کې، بېرته بار کړل.

بيا يې خپل زوی ته، و ويل:

زه د کراکرايي لوښي او دېګي بېرته ورېم.

ته هم د لېسټ سره سم د ګاوندېيانو او خپل کور لوښي او دېګي بېرته ورکړه.

تنها و ويل:

سمه ده، پلاره!

زه به دا کار وکړم.

پلار يې د زرنج خاوند سره سپور شو.

بيا يې د کراکرايي هټې خوا، روان شوو.

تنها هم خپله دنده تر سره کړه.

د خوشحالۍ ورځ تېره شوه.

تنها د ځو ورځو له پاره، الته په خپل کور کې، پاتې شو.

بيا وروسته د تل په شان، لمړی کابل ،بيا زابل ته لاړ.

الته به، په دندو بوخت او هرې ليکې(جبهې) ته، ته.

کال پوره شو.

بيا مور يې هغه ته زنګ و واه.

هغه په ليکه کې و.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

........................................

د غوږکي (تېلفون، موبايل) غږ ته يې پام نه و.

مور يې وارخطا، شوه.

هغې سوچ وکړ چې پر تنها څه پېښه شوې ده.

بيا يې خپل مېړه ته غږ او و يې ويل:

د تنها غوږکي ته زنګ ورځي خو غوږکی، نه پورته کوي.

هغه بيا د خپل غوږکي (تېلفون، موبايل) نه زنګ و واهه، په رېښتيا هم زنګ تېرېده مګر هغه غوږکی نه پورته کوه.

دواړه وارخطا شوو.

ورځ توله په سوچ کې تېره شوه او ماښام شو.

تنها هم کله چې په ليکه کې چوپتيا شوه، خپل غوږکی(تېلفون، موبايل) يې له چانټې نه راوويست او ويې کتل چې له کور نه، هغه ته زنګونه، راغلی دي.

ژر يې خپلې مور ته، زنګ و واهه.

مور يې غوږکی (تېلفون، موبايل) پورته او ويې ويل:

الو!

څوک خبرې کوې؟

تنها و ويل:

زه يم مورې!

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

تنـها!

مور يې خوشحاله شوه او ويې ويل:

د سهار رايسته (خوا)، تا ته، زنګونه وهو، ستا درک نه و.

هغه و ويل:

زه په ليکه کې، وم.

د غوږکي غږ، نه اورېدل کېده.

بيا مور يې و ويل:

ښه خو يې؟

تنـها و ويل:

د خدای فضل دی.

تر اوسه، ښه يم.

بيا مور يې زياته (ډېره) کړه:

زه ستا د خسر کور ته تللې وم.

هغو، و پوښتل:

څه وخت به واده کوئ.

ما ورته و ويل:

زه غوړام لمړی د تنها سره خبرې وکړم، بيا به تا ته خبر در کړم.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

...................................

هغوی هم و منه.

ښه شو چې د ستا غږ مې واورېد، ستا اند (نظر) په دې برخه کې څه دی؟

هغه و ویل:

د پلار سره مي د هغه کور ته، د پرېکون له پاره، لاړه شه.

تولې اړینې موضوعګانې فیصله، بیا ما ته، احوال راکړه، تر څو د شل شپو، رخصت واخلم.

مور یې و ویل:

سمه ده!

څو ورځې وروسته د تنها مور، پلار، تره او د کلي ملا امام د تنها خسر کور ته، د پرېکون له پاره، لاړل.

وروسته له خبرو او اترو، یوې پایلې ته ورسېدل.

بیا موریې د تنها سره د واده د وخت ټاکلو په هکله مشوره وکړه.

تنها و ویل:

زه لمړی غواړم د خپل کومندان (قومندان) سره د رخصتی په هکله و غږېږم، پایله به یې تاسو ته په غوږکې کې، و وایم.

دوې ورځې تېرې شوې.

تنها د خپل کومندان (قومندان) نه د شل شپو رخصت، واخیست.

بیا یې خپلې مور ته زنګ و واهه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..............................

مور یې د سلام وعلیکم او وعلیکم سلام نه وروسته، وپوښتل:

رخصت دې ځنګه شو؟

تنها و ویل:

ما خو رخصت واخیست.

بیا یې و پوښتل:

کله به راورسیږې؟

هغه و ویل:

دوې ورځې، وروسته.

مور یې خوشحاله شوه او ویې ویل:

زه به ستا دراتګ خبر، ستا پلار ته ورکړم.

هغه به موضوع ستا د خسر سره ګډه (شریکه) کړي.

ورسته به د واده ورځ وټاکو.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا یې د مور سره په غوږکي کې، خدای پاماني وکړه.

ورځ تېره بیا هغه لمړی کندهار او وروسته په الوتکه کې، کابل ته راغی او مازیګر په موټرو کې خپل کور ته، ورسېد.

کورنۍ یې، خوشحاله شوه.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

......................................

بیا ټولو په ګډه د واده ترتیبات ونیول.

په واده کې یې ساز او سرود هم و.

نا غوښتي کسان هم الته د سیل له پاره راغلي وو.

واده هم په خوشحالۍ سره تر سره شو.

ناوې یې په موټر بیا وروسه په ډولۍ کې، کورته ورسوه.

د تنها نوی ژوند پیل شو.

تنها الته دوې اونۍ نورې، هم تېرې کړې.

بیا یې رخصتی مخ په خلاصېدو شوه.

هغه هوډ(تصمیم) ونیو تر څو، بېرته، دندې ته لاړ شي؛

هغه په دندو، مین و.

تنها خپله دنده په کندهار، هلمند، نیمروز، ارزګان او هرات ولایتونو کې، تر سره کړې ده.

کال بل یې دنده په هلمند ولایت کې تر سره او بیا په رخصتۍ، خپل کور ته، لاړ.

دوې شپې یې، تر سرې کړې.

یوه ورځ سهار چې اوا (هوا) توده او دی په برنډې تر څېرې لاندې ناست و.

نا څاپه یې پر زړه را وګرځېد چې، خپله توپانچه پاکه او غوړه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

..................................

دهغه توپانچه هم روسی او نوم یې مکروف (مکاروف) وه.

دا توپانچه خورا مشهوره او کوچنۍ توپانچه ده.

په ډزو کې هم ډېره غښتلې، کامیابه او ډېر مینه وال هم لري.

هغه کوټې ته د ننه شو.

خپله توپانچه یې را واخیسته او بیا برنډې ته لاړ او پر توشکې کښېناست.

د توپانچې شاجور یې را و وېست او تر خوا یې کېښود.

بیا یې د غوړو (غوړیو، تیلو) ډبی هم ځانته نږدې کړ.

په دې وخت کې، مور یې راغله او هغه ته، مخامخ کښېناسته.

تنها، هغې ته سلام ورکړ.

هغې هم د تنها سلام ته وعلیکم، و ویل.

تنها د توپانچې په خلاصولو، پیل کړ.

مور یې هغه ته و ویل:

زویه!

ته ځانته، کومه بله دنده و مومه!

دا دنده له یوې خوا ډېره ستونزمنه او له بلې خوا ورور وژنه ده.

طالبان هم د تا په شان ځلمیان او په خاورې مینان دي.

هغوی وایې:

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

...................................

مونږ د اشغال په مخامخ اړخ (مقابل) کې جهاد کوو.

تنها و ویل:

دا هسې خبرې دي.

زمونږ جګړه (مبارزه) پر حق ده.

مونږ، د هیواد دفاع کوو.

خبرې ډېرې کښته او پورته شوې.

په دې و خت کې د توپانچې خوله هغه د مور خوا وه او تنها غوښتل چی میله (میل) یې خلاصه کړي.

په دې وخت کې په ناڅاپې توګه د تنها ګوته ماشې ته لاړه او ډز شو.

مور یې غږ کړ:

څه دې وکړ؟

بیا هغه په وینو کې پر ځمکه پرېوته او د خبرو پاتې شوه.

د تنها په سترګو تیاره خپره او هک پک شو.

بیا یې سترګې وغوړوې.

مور یې په وینو لمده او پر ځمکې اوږده پرته وه.

په دې وخت کې د هغه ښځه، پلار، ورور او خویندو منډې اوچیغې کړې.

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

هغه یې را پورته کړه، مګر د هغې بدن په لړزه (لرزه) وه.

ګاوندیانو یې هم، منډې کړې.

بیا هغه یې په یوه موټر کې واچوه او تر روغتون پورې یې ورسوه ( وپوړه).

البته د رسېدو سره سم، ډاکټران پرې راټول شوو.

خپل کنټرول یې  پیل کړ.

لږ ځنډ وروسته یې، هغوی ته و ویل:

کار د لاسه تللی دی.

هغې خپل پاتې ژوند تاسو ته، وبانبه (وبخښنه).

هغې ته دې خدای فردوس جنت او تاسو ته دې د زړه صبر، په برخه کړي.

هغوی ټول په ژړا او هر کس (تن) تنها پړ باله.

په دې وخت کې پولیسو مشر هم  ورسېد او موضوع یې رسمي کړه.

هغوی ته یې اجازه ورکړ تر څو خپل مړی، کور ته، یوسي.

بیا مشر داکټر و ویل:

تر کوره، د موټر لاره شته؟

د تنها پلار و ویل:

تر یوه ځای پورې شته.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

......................................

بیا داکتر زیاته کړه.

د روغتون مدیر ته لاړ او د امبولانس غوښتنه وکړئ.

د تنها پلار اداری مدیر دفتر ته د ننه او هغه نه یې د امبولانس موټر غوښتنه وکړه.

هغه فورمه ډکه او تنها د پلار لاسلیک یې واخیست.

بیا یې کاپي کړه.

اصله یې ځانته په دوسي کې کېښوده او کاپی یې د تنها پلار ته ورکړه او ویې ویل:

دا کاپی د امبولانس چلونکي ته ورکړه.

هغه امبولانس ته نږدې شو.

چلونکي له شیشې نه سر وباسه او ویې ویل:

خیریت خو به وي؟

د تنها پلار و ویل:

دا فورمه واخله.

زمړنړ مړی (جنازه) تر کوره ورسوه.

هغه و پوښتل:

مړی چېرې دی؟

د تنها پلار و ویل:

ketabton.com - The Digital Library



..................................

البته په سړې خوني کې دی.

بیا یې موټر چالانه او سړې خونې خوا روان شو.

د تنها کورنۍ او ګاونډیانو د هغې مړی په امبولانس کې، کېښود.

بیا ټول د مړي سره، کور ته لاړل.

په لاره کې یې، نږدې دوستان او خپلوان، خبر کړل.

مړی یی د سیمې د دود سره سم پلارنۍ هدیرې ته ورساوه.

مړی ښخ او مراسم د سیمې دود سره تر سره شوو.

پولیسو موضوع د سپیناوي له پاره، په خپل راپور (رپورټ) کې ولیکه او محکمې ته یې وړاندې کړه.

محکمې هم د څېړونو نه وروسته، تنها او د هغه پلار یې زندان ته ولېږل.

د تنها پلار شل ورځې او شپې وروسته له بند (زندان) نه، خوشې شو.

هغه کور ته لاړ، مګر تنها په بند کې پاتې شو.

تنها، د پنځه میاشتو له پاره بند (زندان، جېل) تېر بیا په ډېرو منځګړیو (واسطو) له بنده خلاص، او کور ته ستون شو.

څو ورځې یې په کور کې نه وې تېرې کړې چې، بیا د هغه پسې جلب راغی او د دوهیم ځل د پاره، بند (زندان، جېل) ته لاړ.

څه موده یې تېره بیا البته یې یوه عملیات هم وکړ.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

............................................

ځو میاشتې وروسته له بند (زندان، جېل) نه خوشې شو.

خپل اسناد یې د محکمې نه پاک او تر لاسه کړل.

بیا یې هغه واخیستل او له ځانه سره یې دندې ته، یوړل.

اسناد یې قطعې کې د پروسې له پاره وړاندې، کړل.

د هغه اسناد، ومنل شو.

بیا اونۍ وروسته هغه پر خپلې دندې، پیل کړ.

د واده یې ځلور کاله تېر، شوو.

اولاد یې په برخه نه شو.

پیسې یې ټولې کړې، بیا یې دوېیم واده وکړ.

پلار یې هم څه موده وروسته دوېیم واده تر سره کړ.

تنها په څو ولایتونو کې دنده تر سره کړه.

کله به یوه ولایت او کله به دوېیم او درېیم ولایت ته، ته.

ډېرې سختې ورځې یې تېرې.

د هغه په نصیب کې اولاد، نه وه.

کال تېر او هغه بېرته زابل ولایت کې په دندې وګمارل شو.

البته یې دنده تر سره کوه.

یوه ورځ د کلیو مشرانو د هغه سره غونډه درلوده.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

........................................

په خبرو، خبرو کې د تنها د خولې و وتل چې ښځې لري خو اولاد نه لري.

بیا یوه کس (تن) له ځایه پاڅېد او هغه ته یې و ویل:

ټول تاثیر(تقصیر) ستا د ښځو، دی.

ښه به وي چې درېیمه ښځه او د بل ولایت نه، وکړئ.

هغه په خندا شو.

بیا یې و ویل:

په بل و لایت کې ښځه به څنګه وکړم؟

کس و یل:

مونږ به تا ته، ښځه پیدا کړو.

تنها هم و منه.

څو ورځې تېرې، شوې.

هغه کس او څه نور د قوم سپین ږیري د هغه کوټې (دفتر) ته راغلل. هغوی، تنها ته، و ویل:

مونږ ستا د پاره یوه ځوانه پېغله ومونده.

د وعدې سره سم به نه، نه وایې؟

تنها و ویل:

سمه ده!

ketabton.com - The Digital Library



جلئ خو ما نه ده لیدلې.

مګر، د وعدې سره سم، زما قبوله ده.

کسانو و ویل:

سمه ده!

څو ورځې وروسته به ستا ګوژده تر سره، کړو.

تنها و ویل:

سمه ده!

بیا کسانو و ویل:

ته کولای شئ، خپل پلار او ورور هم، کوژدې ته و بولې.

تنها و ویل:

سمه ده!

زه به کوښښ وکړم.

سوچ نه کوم چې هغوی به دې ولایت ته، راتلی و شي؟

ځمکني لارې بندې او اوایي هم ډېر وخت او لګښت غواړي.

کسانو و ویل:

ته خپل کوښښ وکړه!

نور کارونه به، خدای سم کړي.

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

..................................

هغه و منه.

کسانو د چای څښلو نه وروسته، له ځایه پاڅېدل او تنها ته يې مبارکي ور کړه.

تنها هم د غوږکي (ټېلفون، موبايل) شمېره، کسانو مشر ته ورکړه.

کسانو، خدای پاماني واخيسته او د قطعې ځخه و وتل ( دباندې شوو).

کله نا کله به يې تنها ته زنګ واهه او د هغه نه به يې، هغه د پلار او ورور د راتګ پوښتنې کوې.

څه و خت تېر او حالات ګډوډ شوو.

طالبانو په دولتي (جمهوريت) پوستو چاپې پيل کړي.

حکومتي عسکرو او افسرو په ښټ (شا) تګ ته اړ شوو.

ورو، ورو ولسوالۍ د طالبانو لاسونو ته، پرېوتې.

جګړه خونړۍ او تنها تېښتې ته، اړ شو.

هغه د زابل نه کندهار ته، لاړ.

شپه يې په ډار سره په يوه رستورانټ کې، تېره کړه.

سهار وختي د کابل ښار په موټر کې، کښېناست.

سر اومخ يې په څادر باندې پټ کړی و.

له ځانه سره به يې کلمې ويل او پر ځان به يې چوفوې.

شپه وروسته کابل ښار ته، ورسېد.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

............................

په کابل کې آرامي او خيرو خيريت ښکارېده.

هغه په لاره ډېر وېرېدلی و.

بيا د لغمان موټرو، هډې ته لاړ.

په يوه موټر کې کښېناست.

دوې ګړی وروسته د لغمان ولايت مرکز (مهتر لام بابا) ښار ته ورسېد.

بيا د الينګار ولسوالي اډې خوا ته، روان شو.

التـه الت (حالت) ښه نه برېښېده.

داسې ښکارېدل چې، څه به پېښ شي.

هغه د نورو کسانو سره د الينګار ولسوالۍ په موټر کې، کښېناست.

موټر ډک او له هډې يې، حرکت وکړ.

د هغه سيمه د حکومت (جمهوريت) په لاس کې وه.

هغه هم د خپلې سيمې ته نږدې، له موټره کوز شو.

ورځ وروسته التـه هم جګړه پيل او طالبانو د هرې خوا نه ډزې کوې.

ماسپښين، شو.

د هغه پلار، د بام پر سر کار، کوه.

په دې وخت کې د هغوی د کور تر څنګ، يوه غټه د اوان (هاوان) مرمۍ ولګېده او ټوټې (چرې) يې هرې خوا، خپرې شوې.

## د مور وژونکی (قاتل)

......................................

یوه ټوټه (چره) هغه د پلار په زړه ولګېده.

هغه الته پرېوت.

ټولو، بام ته منډې کړې.

پلار یې هم په وینو سور او لېت پېت و.

چا پرې اوبه اچوې او چا هم د هغه لاسونه او پښې مښې.

هر څه د لاسه، تللی وو.

هیڅ کار، کومه ګټه، نه درلوده.

هغه هم په حق ورسېد.

کور کې غوغا او ژړا، پیل شوه.

خلک راټول شول.

په دې وخت کې دولتي عسکرو، ځېنې (شا) تګ ته اړ شو.

عسکرو به د نورو ولسوالیو په شان، خپل نظامي وسایل پرېښودل.

خپل کالي یې بدلول او خپلو ولایتو نو ته، به تلل.

جمهوریت په دې ولایت کې هم، په نسکورېدو شو.

خلکو په ستونزو سره، هغه ته کفن وموند او د غسل او کفن نه وروسته، نږدې ادیرې کې، خاورو ته، وسپاره.

بیا دوې ورځې وروسته یې د هغه د خیر، خیرات او فاتحې مراسم د اولادونو له خوا، تر سره شول.

ketabton.com - The Digital Library

## د مور وژونکی (قاتل)

.......................................

د تنها ستونزې نورې هم ډېرې شوې دي .

د ورو ورونو اوخویندو سر پرستي هم، د هغه ترغاړې شوه.

هغه هم خپله نظامی دنده، د نورو په شان له لاسه ورکړه او مجبور شو، خپلې سیمې کې پاتې شي.

هغه هوډ (تصمیم) ونیو تر څو، پر ځمکو کار وکړي.

تنها اوس هم ژوندی دی.

هغه اوس د دوپیو نجونو پلار دی، چې یوه یې له یوې (لمړی) او بله یې له بلې (دوېیمې) ښځې دي.

همدا راز د پلار بلې (نوې) ښځې نه یې هم پنځه ماشومان پاتې، چې درې یې الکان او دوې یې نجونې دي.

نورو ورنو نه یې هم څه، ځلمیان شوي او له هغه سره مرسته کوي.

هغه په دوبې کې د خپلو ښځو سره کابل او د ژمي په موسوم کې خپلې سیمې یانې (یعنې) لغمان ولایت، الینګارولسوالی ته، ځي او التته خپلې ورځې او شپې تېروي.

هغه اوس کوښښ کوي، کومه حکومتی (په امارت کې) دنده تر لاسه کړي.

مګر؛

تر اوسه یې کومه دنده، نه ده تر لاسه کړې.

**پای**

ketabton.com - The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي (برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و معماری
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

ketabton.com - The Digital Library




١٩. منار جام - الهامی برای قطب منار
٢٠. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
٢١. جام یا کلیان ( کلان)
٢٢. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
٢٣. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
٢٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
٢٥. چېر ته چې قانون نه شته (کډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
٢٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
٢٧. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
٢٨. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
٢٩. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
٣٠. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
٣١. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
٣٢. هیچ (چهل داستان واقعی)
٣٣. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ١٧ ماه میزان سال ١۴٠١ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
٣٤. ۴٠- چهل
٣٥. مجنون او گلچین (پښتو ناول)
٣٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
٣٧. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
٣٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

ketabton.com - The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې ناوي (پښتو ناول)
٦۱. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

ketabton.com - The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)،(پښتو ناول)

ketabton.com - The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
۲. لیونی لېوه
۳. د خاورو لاندې ښار
۴. سپین کارغه
۵. سور تنور
۶. خړه بیزو
۷. بندي مرغه
۸. توده برستن
۱۰. بې وخته باران
۱۱. د ژوند پای

ketabton.com - The Digital Library

**د مور وژونکی (قاتل)**

.....................................

**د امکان او وخت په صورت کې**

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

ketabton.com - The Digital Library

# Mother

# killer

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** February - March /2026

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*